## بسم الله الرحمن الرحيم

## د الله سبحانه وتعالی د نافرمانۍ په صورت کې د مخلوق اطاعت جایز نه دی

په سنن ابن ماجه کې له ابو سعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوې ډلې لپاره عبدالله بن حذافه رضی الله عنه د امیر په توګه و ټاکه. زه هم ور سره وم، په لاره کې داسي ځای ته ورسېدو چې خلکو د لوبو په میدان کې زیات اور بل کړی و؛ عبدالله بن حذافه ملګرو ته وویل: ایا زما اطاعت پر تاسو واجب نه دی؟ ملګرو وویل هو، واجب دی، عبدالله بن حذافه وویل: تر اوسه چې مې هرڅه درته ویلي، زما اطاعت مو کړی، خو اوس غواړم تاسو امتحان کړم چې زما په امر څوک دغه اور ته ځان اچوي او کنه. کله چې عبدالله د خپلو ملګرو چمتووالی ولید، نو ورته ویې وویل: خپل ځان په اور کې مه اچوئ ما در سره ټوکې کولې. دغه پېښه تر را ګرځېدو وروسته له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره شریکه شوه، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**(من امركم منهم بمعصية الله فلا تطيعواه)**

***ژباړه:*** *هر څوک چې تاسو ته د الله سبحانه و تعالی په نافرمانۍ امر کوي، د هغه اطاعت مه کوئ.*

د دې تر څنګ پورته حدیث د یو بل حدیث مفهوم هم واضیح کوي. د الله رسول صلی الله علیه وسلم په بل ځای داسي فرمایلي دی:

**( لا طاعة للمخلوق فی معصية الخالق)**

*رواه احمد و طبراني*

***ژباړه:*** *په هغه ځای کې د مخلوق اطاعت مه کوئ، چې د خالق نافرماني په کې راځي.*

که متوجه شو، موږ په اوس وخت کې څومره د دغه حدیث پلي کېدو ته اړتیا لرو، په ځانګړې توګه هغه وخت چې موږ د نا اهله واکمنانو له اصلي څېرې څخه خبر شو؟ نو پر همدې اساس د هغو واکمنانو او علماوو خبره، چې د الله سبحانه و تعالی د شریعت خلاف وي، اطاعت یې جایز نه دی، بلکي یوازې د هغو امیرانو اطاعت واجب دی چې خبره یې د الله سبحانه و تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم  له سنتو سره مطابقت ولري. که څه هم امیر حبشي غلام وي.

درنو لوستونکو! تر هغو چې بیا هم تاسو ته بل حدیث ارایه کوو، تاسو پر بې نیازه الله سپارو.

**والسلام على من اتبع الهدى**